شریعت

اونیزه

د افغانستان د طالبانو د اسلامي تحریك نشراتي ارګان

لومړی کال | نهمه ګڼه | دوشنبه د ۱۳۷٤ش کال د سلواغې (دلو) د میاشتې (۲۳) | د ۱۹۹٦ میلادی کال دفبروری (۱۲) | د ۱٤۱٦ق کال د رمضان المبارك (۲۳)

د دښمن په مقابل کې د زورور قوت برابرول فرض دي

لوی خدای(جل جلاله) فرمایلی دي:«د دوی(کافرانو) په مقابل کې چې مو څومره قوت او روزل شوی آسونه له وسه کېږي تیار یې کړئ. چې دالله تعالی دښمن او د تاسې دښمن وربانديې وویروئ.»
(الانفال: ٦٠)

اصلی قوت ویشتل دی

حضرت عُقبه بن عامر (رضی الله عنه) وایی: د الله د رسول (صلی الله علیه وسلم) څخه می په منبر باندې اوریدلی دی چې ویلې یې:«د کافرانو په مقابل کې چې څومره کولای شئ د قوت تیاری ونیسئ. خبر اوسئ: چې اصلی قوت ویشتل دی، خبراوسئ: چې اصلی قوت ویشتل دی، خبر اوسئ: چې اصلی قوت ویشتل دی.»
(دغه حدیث امام مسلم روایت کړی. مشکوة)

د افغانستان کړېدلی او مجاهد ولس او د نړۍ ټولو مستضعفو ولسونو ته

د طالبانو د اسلامی تحریك محترم امیر د وړوکی اختر د مبارکی پیغام.

نحمده ونصلی علی قائد المجاهدین و علی آله واصحابه و من اهتدی بهدیه و بعد: د افغانستان د مسلمان او مجاهد ملت او د ټول اسلامی امت قدرمنو وروڼو او خویندو!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

په خوښی سره د سپېڅلي روژې او کوچنی اختر تبریك درته وایم او د عبادتونو د قبول په دعایم.

لکه څرنګه چې اسلام د مسلمانانو ترمنځ د خواخوږۍ، ورورۍ او ښو اړیکو په لرلو باندې ټینګار کړی دی (٤مخ)

قوماندان ملا نورخان له وحدت ورځپاڼې سره په مرکه کې:

زما د قتل په هکله د کابل رادیو خبر، بالکل دروغ دي

تر اوسه پورې څلطه نه دی ورکړې، زه د طالبانو په لومړی کرښه کښې له (دولت) سره د قوماندان په صفت په جهاد بوخت یم

د ربانی اداره غیر شرعی بولم، او پر ضد یې اوس هم په سنګر کښې پروت یم

د طالبانو نومیالی قوماندان ملانورخان د وحدت دفترته د هغو پوچو تبلیغاتو د تردید په خاطر چې د کابل راډیو او(شهادت) ورځپاڼې پیل کړی دي چې: ملانورخان د طالبانو لخوا په قتل رسیدلی، ورغلی او لاندې مرکه یې ورسره کړې: زما د قتل په هکله د کابل رادیو خبر بالکل دروغ دی، ما تر اوسه پورې خطبه نه ده ورکړې، زه د طالبانو په (٤مخ)

مولوی صاحب احسان الله«احسان» په شاه منصور کی طالبانو ته وویل:

طالبان د اصحاب صفه (رضی الله عنهم) غوندی کله تعلیم کوی او کله هم په جهاد کی وی

زه دلته دسیاسي پروګرامونو دپاره نه یم راغلی، زما هدف له دیني عالمانو اوطالبانو سره لیدل اوکتل دي

دطالبانو اسلامي تحریك د(اخوان) یا کوم بل اسلامي تحریك سره اختلاف نه لري، دا ډول تبلیغات دلویدیځ په خدمت کې ګمارل شوي اداري کوي

یواځې طالبان او مخلص مسلمانان کولي شي په افغانستان کې اسلامي حکومت جوړ کړي

د شریعت اونیزي خبریال خبر راکوي چي د افغانستان د طالبانو د اسلامی تحریك د عالي شورئ غړی محترم مولوي صاحب احسان الله «احسان»د سرحد صوبې ته ددی د پاره تشریف راوړی دی چې د مختلفو دیني عالمانو او طالبانو سره لیدنی کتنی وکړي.

د دغو لیدنو کتنو په ترځ کی ، هغه په چراټ کی د محترم الحاج مولوی محمد صادق صاحب کورته لاړ او هلته یې د هغه د شهید زوی حسین جان (رح) فاتحه وکړه، چیرته چې حاضرینو یو زیات شمیر خلکو ته خبری وکړې. وروسته یې دحرکت انقلاب اسلامی افغانستان د اجرائیه شوری له غړو سره ولیدل.

د شاه منصوراو چوټو لاهور په مدرسو کی یې دینی طالبانو او عالمانو ته خیلی عالمانه بیانیې واوروللې چې تفصیلات به یې د شریعت په نورو ګڼوکی لوستونکو ته وړاندې کړو. (٤مخ)

طالبان پروگرام حمله برکابل را ندارند

(ملا وکیل احمد«متوکل»)

دریك راپور از قندهار گفته شده که: جناب مولوی وکیل احمد آخند زاده منشی شورای عالی تحریك اسلامی طالبان، ضمن اظهارات خویش گفتند که: طالبان پروگرام حمله بر شهرکابل را ندارند و انتظار موقع را دارند که مسایل از راه مذاکرات حل گردد و از جنگ جلوگیری بعمل آید. اما متأسفانه اداره، کابل چنین نمیخواهد و اداره، متذکره به گفته و وعده، خود ایستاد نشده و آمادگی جنگ را میگیرد.

طالبان درمذاکرات جاری اسلام آباداشتراك ندارند

(معصوم «افغانی»)

خبرنگار ما خبرمیدهد که: محترم مفتی معصوم «افغانی» سخن گوی تحریك اسلامی طالبان درکویته به ارتباط مذاکرات جاری اسلام آباد اظهار داشتند که: به این ارتباط کسي با ما در تماس نبوده و ما منتظر نتایج مذاکرات میباشیم درصورتیکه نتایج مذاکرات بنفع ملت مسلمان افغان باشد ما در قبول آن احساس حقارت و کمبود نمیکنیم.

دغه خبره غلطه ده چه طالبان د پاکستان یا ایران ترتاثیر لاندی دی

د طالبانو داسلامی تحریك له ګډون څخه پرته د افغانی مشرانو مذاکرات هیڅ نتیجه نه ورکوی

طالبان په افغانستان کی یو اغیزمن نظامی ځواك دی چی ینځلس ولایتونه یی په لاس کی دی

که د پاکستان حکومت دامریکا یانورو دفشار په اساس په مذاکراتو کی طالبان نظر انداز کړی، د افغانستان بحران به هیڅکله حل نکړی

(جنرال حمید گل)

نوائي وقت:اسلام آباد ۱۱ فروری ۱۹۹۷.

په اسلام آباد کی د افغانستان په مسأله باندې له افغانی مشرانو سره مذاکرات تر هغو پورې نتیجه نه ورکوی، څوچې دقضیه مهم اړخ (د طالبانو اسلامی تحریك) په مذاکراتو کی ګډون نه وی کړی، که دپاکستان حکومت د امریکا یا نورو د فشار په اساس په مذاکراتو کی طالبان نظر انداز کړی، او د افغانستان د شخړی د پاره د طالبانو دګډون څخه پرته د کوم حل په لټه کی شی، (څلورم مخ)

جناب حضرت احمد امین«مجددی» سجاده نشین خانقاه عالیه قلعه، جواد کابل وارد قندهار شد

خبرنگار ما از قندهار خبر میدهد که: جناب حضرت احمد امین «مجددی» به اساس دعوت شورای عالی تحریك اسلامی طالبان، وارد قندهار گردید. خبر میافزاید که: (ص٤)

بروجردی دسولی خبری کوی، خو دولت یی د ربانی اداری ته دجګړی دپاره ملیشی روزی

په ایران کی دربانی داداری دپاره په فوځی غونډونوکی هرتن ته ددری نیم زره کلدار ومعادل معاش ورکول کیږی

د وحدت ورځپاڼې په لسم فروری د دوؤ مختلفو رپوټونو په لړ کی د ایران د حکومت له خوا په افغانستان کی دروانو حالاتو د سولی او جګړی په اړوند خبرونه خپاره دی، چې وایی: ایران افغان مشرانوته خبر داری ورکړې دی چې که د مسئلی(څلورم مخ)

شهادت شیخ احمد صیاد، مبین اراده، بد مقامات ایرانی علیه اهل سنت و جماعت ایران میباشد

منابع خبری بین المللی خبر دادند که جسد شیخ احمد صیاد عالم سنی مذهب ایران چندی قبل در جنوب شرق ایران در یکی از سرکهای بندر عباس در حالی پیدا شد که آثار شکنجه و تعذیب در بدن آن ظاهر بود.

منابع خبری میگویند: جناب شهید شیخ احمد صیاد چندی قبل غرض جمع آوری کمك و مساعدتهای مالی به خاطر پیش برد امور علمی و تدریسی مدرسه، علمی اش به امارات متحده سفری نموده بودند که هنگام بازگشت از امارات ناپدید شدند. عقیده، عمومی بر این بود که از طرف مقامات حکومتی ایران توقیف گردیده است زیرا قبلاً هم چند بار از طرف مقامات حکومتی ایران (ص٤)

د قندهار والی محترم حاجی ملامحمد حسن اخند په مشری د عالی شوری غونډه دایره شوه

د عالی شوری غونډه د عالی شوری د سرپرست او د قندهار والی محترم حاجی ملامحمد حسن اخند په مشری دایره شوه. د شریعت خبریال د خبر له مخې په غونډه کی په سیاسی او نظامی مسایلو د ګډون کوونکو لخوا مفصلی څرګندونی وشوی او دعالی شوری څو اهمو غړو خپل نظریات وړاندی کړل. خبرځای زیاتوي د وړاندی شوو موضوعاتو په اړه لازم تصامیم ونیول شول. او هم د اجراآتو لپاره مربوطو مراجعو ته لازمی لارښوونې وشوی. غونډه په هیواد کښي د یوه اسلامی حکومت د راتلو په دعا، پای ته ورسیده.

دنیکمرغه کوچنی اختر دمبارکی پیغام

د شریعت اونیزی کارکونکی دنیکمرغه کوچنی اختر په مناسبت د زړه له کومې مبارکی د افغانستان د طالبانو د اسلامی تحریك مشر د اسلام خادم محترم ملا محمد عمر «مجاهد» دعالی شوری غړیو، د افغانستان مسلمان مجاهد ملت او ټول اسلامی امت ته وړاندی کوی.

الله دی وکړی چی روژې مو قبولی او د دعاګانو د قبول په نتیجه کی څمونږه رنځیدلی ملت په ټول افغانستان کی د اسلامی شریعت د نفاذ د ستر نعمت څخه برخمن شي. آمین.

سرمقاله

یأس اداره، ناتوان کابل

اداره، بی کفایت کابل، ازجنگهای ناروا و طویل با ملت خود، بستوه آمده و از دوام دادن به حکومت - محض به نام- مأیوس و ناامید شده است.

میگویند: یکی از جانوران درنده حسود، عادت دارد که پس خورده گوشت شکارش را پلید میکند تا جانوران دیگر از آن استفاده نه کنند: از این جا است که اداره، کابل بعد از اینکه آینده اش را تاریك می بیند و از آن مأیوس شده است اهالیان مظلوم و رنجدیده، کابل را بذریعه، راکت ها و بمب ها و توپ ها، بی باکانه، خورد و ریزه میکند و برای باقیمانده آن -قراریکه از مصاحبه دربوران با رادیو B.B.C بدون شبهه تایید و ثابت شد- راههای منتهی به کابل را بواسطه، ماین ها مسدود نگهمیدارند تا مواد خوراکی و ضروریات زندگی آنها از بیرون نرسد و بکلی ازبین بروند- لا سمح الله- و ملامتی هردو خیانت اسلامی و ملی را بررخ دیگران بکشند.

ولایاتیکه به ظاهر زیر تسلط شان بحر ' میرود، همدردیها، امید ها، صمیمیت و ارتباطها باتحریك اسلامی طالبان به پیمانه، لبریز و وسیع موجود است، تلخی و ناگواری این همدردی ها براي شان از حد و مقیاس بیرون است، یکی ازولایات شمال افغانستان- کندز- که از اهمیت موقعیت ، عمران، زراعت و تجارت برخوردار است و اهالیان مؤمن ومجاهد و خداپرست آن ولایت در دوران جهاد با کمونیستها از ابتداء واجد کارنامه هاي بزرگ اسلامی و تاریخی بوده دارای افتخارات بسیار، شهدای کرام- رحمة الله تعالی علیهم میباشند (ص۲)

د مسلمانی عقیده

دویم مخ

اسلام او ناسیونالیزم

۲ مخ

ملی گرایی در خدمت صلیبیها

(دویم مخ)

پاټك واچوه ماواخله

(دویم مخ)

طالبان د سولی او عدالت سمبول

(دریم مخ)

لبوه ته یې نصیحت وکړ، په هغه ورځ یې دوه وخوړل

(دریم مخ)

دطالبانو د اسلامی پاڅون ضرورت او مشروعیت

(دریم مخ)

ربانی څو ځله په خپلو کړیو وعدو د بطلان کرښه راکښ کړې

«د اسلام د خادم ملامحمد عمر«مجاهد» له وینائو څخه»

شریعت

دامتیاز خاوند : د افغانستان د طالبانو اسلامی تحریک

دتاسیس کال : ١٣٧٤ هـ ش

د لیکوال هیئت تر کتنی لاندی

مسؤول مدیر : الحاج مولوی احمدجان

ټیلفون : ٤٢٦٤٥

آدرس : په پیښورکښی دطالبانوداسلامی تحریك نمایندگی

دیوی گڼی بیه : په هیواد کښی (٣٠٠) افغانی

په پاکستان کښی (٢) کلداری

سرمقاله ...

از ابتدای بروی کارآمدن اداره، کابل درمیان مجاهدین آن ولایت آتش تفرقه و فتنه به برپا داشته که از بد قسمتی جنگهای باهمی و تباه کن روز آرام و خوش را ندیده اند!

منابع خبررسانی در این ماه مبارك رمضان، ماه صیام وقیام و استغفار از اثر برخورد های باهمی مجاهدین آن ولایت ازصد ها کشته، فرزندان اصیل اسلام و افغانستان اطلاع دادند.« انا لـ...»!

گفته میشود که معامله های مشابهی در مناطق دیگر کشور عزیز در بین فرزندان مؤمن آن بر روی دست شان است. این دسیسه سازی و فتنه انگیزی ها خیانت بزرگ اسلامی و ملی و گناه نا بخشودنی بحساب میرود زیرا بعد از چنین رویداد های جگر سوز کُشت و خون، فرزندان مسلمان این کشورعزیز، این فامیل از خاندان بزرگ امت اسلامی نمیتوانند با هم زندگی کنند و درآینده از حریم اسلام و کشور عزیز شان دفاع نمایند بلکه در پی ریشه کنی یك دیگر خواهند بود.

ما درحالیکه این همه فتنه پردازی ها و خیانت های نابخشودنی را تقبیح میکنیم، به مسلمانان افغانستان ابلاغ میداریم که هرچه زود تر دست فتنه گران خائن را کوتاه کنند و برای حصول این مطلب همگانی در خط هاي مستقیم و استوار تحریك اسلامی طالبان افغانستان عملاً منسجم و ایستاده شوند تا خداوند تعالی راه نجات کشور عزیز و فرزندان آن را میسرگرداند. (آمین)

دمسلمانی عقیده

غازی خیل

اوومه برخه

والقدر:

دغه توری هم د(بالله) له باء نه لاندی دي ترکیب یی داسی راځی:(امنت بالقدر) ایمان می راوړی(باور می کړی) دي د الله تعالی په اندازه کرلو داسي باور چی ټول مخلوقات که عین (ذات) وی او که عوض وی(وصف چی په ذات پوری وی) که پیدا شوی دی که پیدا کیږی په هغه اندازه پیدا شوی دی او پیدا کیږی چی الله تعالی په ازل کی ورته ټاکلی ده. یعنی الله تعالی په ازل کی د هر مخلوق لپاره اندازه، وخت، ځای او هرڅه ټاکلی دی، په دنیا کی هرڅه په عین هغه شان باندی پیدا کیږی هیڅ بدلون پکی نه راځی.

خیره و شره:

باور می کړی په ښو د اندازه کولو او په بدو د اندازه کولو، (دواړه می منلی دی) داسی باور چی هر مخلوق که ذات وی، که فعل(عمل) وی، که ښه وی لکه نیك خلك او نیك کارونه او که بد وی لکه بد خلك او بد کارونه له ټاکلی اندازی سره برابر راځی.

من الله تعالی:

زما باور د ښو او بدو په ازلی ټاکنه په داسی حال کی دی چی دا دواړه ډوله(د خیر او شر) اندازه د الله تعالی له لوری څخه ده او هغه کړی ده.

په یو حدیث کی راغلی دی چی: په قدر باندی ایمان او باور کول له بنده څخه غم او حزن لری کوی. یعنی چی هرڅه ورته پیښ شی نو دی به په دی خبره ځان نه واوبنه ورکولی شی چی دغه پیښه الله تعالی راته مقرره کړی ده، ره چی هر څومره غمجن شم دا مقدره پیښه بل شانته نه شوای کیدای.

دغه جمله د هغه چا عقیده ورماتوی چی د الله ازلی اندازه کول بیخی نه منی، او دهغه چا عقیده هم ورماتوی چی د ښو اندازه کول د الله تعالی‌له‌طرفه څخه منی او د بدو اندازه د الله تعالی له لوری څخه نه گڼی.

والبعث بعد الموت:

دغه توری هم د (بالله) له باء نه لاندی دی ترکیب یی داسی کیږی: (امنت بالبعث بعد الموت) ایمان می راوړی (باور می کړی) دی په ژوندی کیدلو . له مرگ نه وروسته، داسی باور چی الله تعالی به د انسان دغه اوسنی کالبوت(بدن) چی زری زری شوي وی بیرته راژوندی کړی، دغه تیشی، پرکی ذری به ددی په حکم راغونډی شي او سا(روح) به پکښی ننباسی.

دغه کار به هله وکړی چی دومه شپېلی ووهله شی، ټول انسانان، پیریان، ژوی(حیوانات) او ملائك به راژوندی شی. بنیادمان به لوڅ لپړ او ناخته وی، د ځمکی په مخ به غرونه او غونډي نه وی، ټوله ځمکه به لکه سپینه ووړی داسی اواره وی.

ټول به راغونډیږی انسانان او پیریان به حساب ورکوی، ځکه چی په دغه دنیا کی دواړه مکلف دی، ملایك به ورسپارل شوی کارونه په لاس کی واخلی او ژوی به یوله بله قصاص غواړی. الله تعالی به د هغوی ترمینځ د خپل عدل قوانین تطبیق کړی او بیرته به خاوري شی. بنیادمان او پیریان به حساب ته وروړاندی کولی شی او پوښتنی به ورڅخه کولي شی نیکانو ته به د عمل پاڼه په ښی لاس کی ورکوله کیږی، دا د نیکبختی نښه ده، بدانو ته به په کیڼ لاس او دشا له خوا څخه ورکوله کیږی، دا د بدبختی نښه ده. د حساب وخت به په بدانو باندی په زرگونو کلونه اوږد شی او په نیکانو باندی به د غلور رکعته لمونځ په اندازه وخت وی. د عملونو د تول لپاره به تله(میزان) اینښودل کیږی، هلته به د چا یوه ذره نیکی هم نه ضائع کیږی، او په چا باندی به یوه ذره ظلم هم نه کیږی.

له حساب نه وروسته به ټول مسلمانان او کافران په (صراط) پُل باندی- چی د جهنم (دوزخ) په سر باندی تیر شوی دی- روانیږی. مسلمانان به وریاندی تیریږی، جنت ته به داخلیږي، څوك به ډیر تیز وریاندی تیر شی او څوك به لږ تیز تیر شی، دا به د ایمان د پیاوړتیا، د نیکو عملونو او په هغو کی د اخلاص په تناسب وی، او کافران به د جهنم (دوزخ) چنگکونه اوتیسی اوجهنم (دوزخ) ته به یی راچوی- اللهّم اجرنا من النار-

که ځینی د ایمان والا گنهکاران ورواچول شی د ایمان په برکت به یو وخت ورڅخه راایستل کیږی له دی وروسته به کافران د تل لپاره په دوزخ کی وی او جنتیان به د تل لپاره په جنت کی وی- اللّهم ارزقنا الجنة بغیرحساب-

یادونه: (د والیوم الاخر او والبعث بعدالموت) دواړو جملو مطلب یو شي دی او هغه په آخرت ایمان لرل دی، له دی سره سره په (امنت...) کی دواړه جملی راغلی دی ځکه چی په قرآن مجید او په حدیثونو مبارکو کی دواړه جملی راغلی دی او په دغه مطلب کی تاکید هم راځی. هغه ددی لپاره چی ټول کافران له آخرت نه منکر دی- د یهودو او نصاری ژو باور په آخرت هم په نیست شمار دی، هغه هم که څیری یی په اوس وخت کی باور پاتی وی او دهری شوي نه وی.

د سیکولیریزم خطرته پام کوئ!

د سیکولریزم له ډیرو مهمو حربو او وسیلو څخه یوهم ناسیونالیزم (Nationalism) دی چی د تاریخ په اوږدو کی یی د اسلامی سیاسی نظام(اسلامی خلافت)،اسلامي یووالی او ورورولی په اسلامی نړی کی د خپل منځی جگړو او اختلافونو په اساس چی د قومی(انا) او غرور له کبله یه‌پیښیدلی، کمزوری کړی او بالاخره یی له مینځه وړی دی. ناسیونالیزم دین او سیاست سره بیلوی او د اسلامی سیاست د هغی مفکوری ځای چی مسلمانانو ته امرکوی چی ټول باید له یوه مرکز څخه اداره شی، ملی عصبیت او قومی حمیّت ته ورکوی چی په نتیجه کی یی اسلامی نړی په دري پنځوسو ځانګړو هیوادونو باندی ویشله شوي ده. هر هیواد ځانگړی سیاسی نظام لری چي له وړوړو نظریو، مفکورو او ایزمونو څخه پیروی کوی. په ځینو هیوادونو کی د اسلام په نوم باندی حکومتونه موجود دی، خو د ا...می خلافت په ځای چی د یوه نړیوال اسلامی نظم غوښتونکی دي، د دودی د فرقوی او محلی گټو نمایندگی او ساتنه کوی، په دی توگه د اسلامی نړی هیوادونه په نړیواله ټولنه او جهانی سیاست کی د اعتبار وړ حیثیت او مقام نه لری، زیاتره په مستقیمه یا غیر مستقیمه توگه د استعماري ځواکونو تر اغیزی لاندی دی.

ناسیونالیزم چی انگلیسی تلفظ یی نشنلیزم دی،د لغت په لحاظ دانگلیسي او فرانسوی ژبو مشترکی کلمی«Nation» څخه اخستل شوی دی. چی دقوم یا ملت په معنی دي. اویه اصطلاح کی ددي دپاره پوهانو زیات تعریفونو کړی دی چی دلته یی یواځی په دوو تعریفونو باندی اکتفا کوو.

اسلام او ناسیونالیزم

مولوی عبدالحکیم «مجاهد»

لومړی برخه

١- دانگلیسی ژبی مشهور قاموس «Oxford Dectionary» د ناسیونالیزم تعریف داسی کوی:«Nationalism: Strong derotion to one's own nation patriotic feelings, principles or efforts.

(له خپل ملت سره د یو چا ټینگه مینه او لمانځنه؛ د وطن پرستی احساسات، اصولاو هلی ځلی نشنلزم یا ملت پرستی ده).

٢- گلکرائیست د خپل کتاب (Principles of politics) په شپږ دیرشم مخ کی لیکی: ناسیونالیزم یا ملت پالنه هغه معنوی مینه او اصول دي چی د یو شمیر داسي خلکو په زړونو کی پیدا کیږی، چی د ځمکی په مخ په یوه ځانگړی سیمه کی اوسیږی، گډه ژبه، مذهب، تاریخی روایات، عنعنات، گډ سیاسی ژوند، او مشترك اهداف او مقاصد ولری.

د ناسیونالیزم تعریفونو او تعبیرونو ته که لږ په ځیره باندی وگورو، نو دا به راته ځرگنده شی چی دغه مفکوره په یوه ټکی باندی زیات زور اچوی، هغه دا چی It is One's strong dovotion to a nation چی په عربی ژبه یی مفهوم دی(وهی ان یکون المرأ اشد حبأ و عبادةً لقومه» (یو سړی چی د خپل قوم او ملت ټینگه مینه او بندگی کوی ملت پالنه ده.) خو اسلامی شریعت د دا ډول ټینگی مینی او لمانځنی اختصاص یواځی لوی خدای(جل جلاله) او د الله رسول صلی الله علیه وسلم ته ورکوری، چی مسلمانان یی باید ورسره ولری.

١- لوی خدای (جل جلاله) فرمایلی دی:« او ځینی خلك هغه څوك دی، چی له الله نه پرته نور له هغه سره برابر او شریك بولی. په هغو باندی داسي مینه کوی لکه په الله باندی، حال دا چا چی ایمان راوړی د هغو له الله(جل جلاله) سره مینه ډیره ټینګه او کلکه وی.» (البقرة: ١٦٥)

٢- لوی خدای (جل جلاله) فرمایی:«ای خلکو: د خپل هغه رب (پالونکی) عبادت او لمانځنه وکړئ، چی تاسی یی پیدا کړی یاست. او هغه کسان چی له تاسی نه مخکی وو، ددی د پاره چی (د الله له عذاب) څخه ځان وساتئ.»(البقرة: ٢١)

٣- د الله رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی:«هیڅوك د تاسي کامل مؤمن نشي کیدی، ترڅو زه په ده باندی، دده له پلاره، زویه، او ټولو خلکو څخه زیات گران شوي نه یم». (مشکوة، کتاب الایمان)

٤- حضرت عبدالله بن عمر رضی اللهٔ عنهما وایی د الله رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی:« هیڅوك له تاسي څخه کامل مؤمن نشی کیدلی. ترڅو چی خپله هیله او غوښتنه د هغه(شریعت) تابع نکړی، چی ما راوړی دی.»(دا حدیث شرح السنة روایت کړی. مشکوة)

له پورتنیو آیتونو او حدیثونو څخه په ښکاره ډول دا څرگندیږی چی که څوك د خدای(جل جلاله) او رسول صلی الله علیه وسلم په ځای د ملت او وطن سره مینه دومره زیاته کړی چی د قرآن او سنت لارښوونی د هغه په مقابل کی له پښولاندی کیږی، دا له اسلام سره جفا ده او دا ډول خلك له اسلام څخه وتلی دی. د ناسیونالیزم خطرناك افراطی شکل به وروسته انشاء الله په تفصیل سره لوستونکو ته بیان کړو خو اوس یواځی د دوو پوهانو په وینا باندی اکتفا کوو:

١- هکسلی په خپل کتاب«Ends and Means» کی لیکی: «هرډول ناسیونالیزم یو بت پرست مذهب دی، چی هیواد په کی د خدای حیثیت لری.»

٢- علامه اقبال«رح» په یو اردو شعر کی وایی:

ان تپے خداوں میں سب سے بڑا وطن ہے
جو پیراهن اسکا ہے وہ مذهب کا کفن ہے

(په دغو نویو خدایانو کی له ټولو نه لوی خدای وطن دی.
څه چی دده د پاره قمیص دی هغه دین ته کفن دی.)

یعنی د ملت پالنی په نتیجه کی به دین له سیاست او حکومت څخه جلا کیږی، اسلامی امت به په ورو ورو ټولنو او هیوادونو باندی ویشل کیږی. چی دغه حالت د اسلامی سیاسی مفکوری او اسلامی نړی‌دپاره د مرگ پیغام دي، چی نشي کولی په بین المللی ټولنه کی فعال رول ولوبوی.

اسلام د ناسیونالیزم یا ملي عصبیت دغه غیر فطری مشرکانه مفکوره چی له سیکولریزم څخه سرچینه اخلی، تردیدوی او دا ډول نظر لرونکی له اسلام څخه وتلی بولي، ددوی دعوت، جگړه او په دی لاره کی مرگ غیر اسلامی عمل گڼی: حضرت جبیر بن مطعم رضی الله عنه وایی، د الله رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: «هغه څوك له موږه څخه نه دی چی خلك عصبیت(ملت پرستی) ته دعوت کوی، هغه څوك ځموږ څخه نه دی چی د ملت پالنی په اساس جنگیږی، او هغه څوك ځموږ څخه نه دی چی د قوم پالنی په لاره کی مړ شی.» (دغه حدیث ابو داود روایت کړی)

هوا اسلام د فطری او معقولی وطن دوستی او ملت پالنی مخالفتْ نه کوی، بلکی اسلامي دین هغه انسانان چی له خپل قوم او ملت څخه دفاع کوی بهترین د انسانانو یی بللی دی.

له قوم او ملت سره فطری مینه یی د عصبیت په مذموم عمل کی داخله نه ده بللی.

(دریم مخ)

ملی گرایی در خدمت صلیبیها

عبدالرحمن احمد هوتکی

(قسمت ششم)

ملی گرائی درطول تاریخ

قبل از آنکه وارد جستجوی نظریه و مفکوره، ملی گرایی (نشنلیزم) در درازای تاریخ شویم و بدانیم که در طول تاریخ به خصوص صده یی که ما در آن زنده گی میکنیم چه ارمغانی ملی گرائی برای جامعه بشریت و عموماً برای امت و جامعه، اسلامی به خصوص باخود داشته است لازم مینماید که گفته شود: ممکن در اذهان بعضیها دیگر توطئه های تاریخی و گذشته علیه اسلام و مسلمین از طرف ملی گرائی اساطیر الاولین پنداشته شده و وظیفه و هدف آن توطئه ها اجرا، شده و انجام شده تلقی گردد و ضرورتی به یاد آوری و نشاندهی آن نمانده باشد. بلی چنین است آن توطئه ها کاری خود را کرد و فاجعه، ها آفرید، امت و جامعه، اسلامی را بطرف بدبختی، سیاه روزی، انحطاط و ذلت کشانید و مسلمین را بالای هم دیگر انداخت و رشته، وثیق وحدت و اخوت و برادری را از میان برداشت و آنها را به رشته های عنکبوتی لسانی، قومی، نژادی، سهمیّ جغرافیائی و... غل و زنجیر زد. به جای عقیده، توحیدی و جزبه، اخوت اسلامی و دینی، تعصبات و جزیات جاهلی قومی، لسانی، نژادی و جغرافیائی را میان افراد و ملتهای جامعه، اسلامی جایگزین کرد. امت و جامعه واحد اسلامی را به کشور های مختلف وجدا از هم و حتی در بسیاری از موارد دشمن آشتی ناپذیر هم قرار داده تمام عواطف و احساسات انسانی و جزیات و مسؤلیتهای دینی مسلمانها را تنها در محیط و حدود جغرافیائی به خصوصی که در آن زنده گی دارند و تبعه، آن پنداشته میشوند محدود و محصور گردانید و اگر احیاناً مسلمانی و یا جامعه و یا کشوری اسلامی روی مسؤلیتهای لاینفك اسلامی خود ها که در قبال اسلام و مسلمین دارند در فکر دیگران بافتند و در مسایل و مشکلات آنها نظر خیر خواهانه و اصلاحی بدهند و یا دست به اقدام عملی زنند و در کنار اوشان قرار گیرد تا از مشکلات و مصیبتهای اوشان قدری بکاهد. متأسفانه این کار منکر پنداشته شده و مخالف حاکمیت و استقلال ملی کشورها تلقی گردیده سرحدات و مرز های کشوری اجازه، چنین کاری را نمیدهد، اگر اسلام، حاکمیت دینی و شرعی مسلمین در یك کشوری که از نگاه حدود جغرافیائی اسلامی پنداشته میشود و یا در کشور های غیر اسلامی تحت فشار، تحدید، ظلم و محکومیت قرار گیرد، برای کشوری اسلامی دیگری جامعه، اسلامی دیگری و افراد مسلمان که در محدوده، وطن اسلامی و غیر اسلامی دیگری زیست دارند این حق حاصل نبوده که از حاکمیت اسلام و حقوق مسلمانهای متضعف و محکوم آنجا دفاع نمایند و به آنها دست بدهند بلکه این مسئله ئی داخلی آنها پنداشته شده و مداخله در امور داخلی آن کشور ها تلقی میگردد، دیگر همه، قضایا و جریانات و رویداد هایکه در عالم اسلام و علیه مسلمین چه در فلسطین، چه در بوسنیا، چه در کشمیر، چه در تاجکستان چه در الجزایر، چه در مصر، چه در عراق و چه در همه، جهان اسلام و غیر اسلام علیه اسلام و مسلمین در کار بوده مسئله داخلی آنها پنداشته شده حق اعتراض و مداخله در آن مجاز نبوده و نمیباشد لذا دیگر همه، توطئه های ملی گرائی عملی و اجرا، شده پنداشته شده و یادی از آن توطئه های تاریخی چه سودی و نفعی برای امت اسلامی خواهد داشت؟ درست این همه تا اینجا انجام شده و کاری خود را کرده است امت واحد اسلامی را از نگاه، قوت جغرافیائی، نظامی و سیاسی و اقتصادی، تجزیه و تحلیل کرده است اما بلکل از بین نبرده و موجودیت آنها یکسره ختم نشده است و الحال بیشتر از یك ملیار مسلمان در قسمتی بزرگ از کره، زمین با داشتن بهترین موقعیتهای طبیعی جغرافیائی متصل باهم، موقعیت اتحاد طبیعی جغرافیائی آنها محفوظ بوده و از امکانیات عظیم طبیعی اقتصادی برخوردار میباشند و از نگاه سیاسی و حتی نظامی در جامعه، بشری مؤقف بزرگ و قابل ملاحظه ئی را دارا میباشند. با این موقعیت های مهم و حیاتی، لله الحمد در سراسر جهان حرکتهای انقلابی اسلامی دست به جهاد و قیام زده اند. کشته میشوند و می کشند تا قرآن حاکم و کفر و طاغوت با تمام مظاهر و اثرات آن نابود گردد. و زمینه ئی برای حاکمیت جهانی اسلام و قرآن میسر شود و همه بندبازها، غل و زنجیر های جاهلی که بدست و پای مسلمین زده شده است گسسته گردد و شعار (شوید بنده های خدا برادر) تحقق پیدا کند. بازبه وضوح مشاهده میگردد که استعمار صلیبی به ... ی صهیونیزم یهود و ما سونیزم جهانی ... نار شده همان خنجر زنگ زده و مسموم به سم ملی گرائی و ناسیونالیزم را بدست گرفته علیه اسلام و مسلمین داخل معرکه گردیده دست آورد های عظیم و بزرگی جهاد و انقلابهای اسلامی را سبوتاژ مینمایند، صفوف واحد قوتهای اسلامی و جهادی را در هر گوشه و کنار زیر نام و عنوانی اختلافات لسانی، قومی، نژادی، سمتی و کشوری و اختلافات، سلیقه های سیاسی و تنظیمی متفرق گردانیده و اوشانرا علیه هم دیگر میاوزند اگر دور نرفته نزدیك بیایم و به کشور خود و انقلاب خود و جهاد خود و مصیبت جانکاه فعلی خود نظر بی افگنیم به وضوح مشاهده مینمائیم که تاریخ تکرار شده و توطئه ها صلیبی علیه جهاد و انقلاب اسلامی ما که ابعاد گسترده، جهانی داشت و باعث گردید که تحریك در اذهان سراسر امت اسلامی ایجاد نماید و دیده ها امید به این طرف دوخته شود کارگر افتاد و فاجعه، بزرگی ببار آورده‌طوریکه: (ادامه دارد)

پاتك واچوه ما واخله

س - کنړی

وائی دا دیوتوی رفاهی ټوکر نوم دی چه د پاټك د عاید پرته ئی اخستل گران کار دی. ځکه دهغی قیمت ویل کیږی دومره لوړ دی چه د پاټکی پرته بل چاته دهغی د رانیولو چانس نشته، خو دا باید وویل شی چه یوازی د افغانستان په خاوره کی پاټك اچول ددغه ټوکر دا اخستو بیه برابر ولی شی او بس.

د پاټك اصطلاح زموږ په کلچر کی نوی پیدا شوی او د څو کلو راهیسی ئی دومره شهرت موندلی چه د کوڅو ټول ماشومان، قمار وهونکی، شپانه او... ټول ددی گټور مهنت(!) لپاره وتلی او په کلونو کلونو ئی د خپلو کورنیو او خپلو خپلوانو له لیدو ځانونه محروم کړی او د پاټك په محبت کی دی حدته رسیدلی چه دهغی په لاره کی دخپلو سرونو هم تیردی.

خو گوره چه د پاټك دا دومره محبت دکوم تشویش یا تعجب خبره نده ځکه پاټك خو نن ورځ زموږ په وطن کی د ډیرو لپاره د داسی بی مثاله خزانی رنگ خپل کړی چه دیو پاټك خاوند نن د دنیا دلویو شتمنو په وله کی حسابیږی او دومره عایدات ورته برابروی چه دهغی د «X+X+X» ټول مصارف چه د ملکونو بودجی ئی هم له پورته کولو عاجزه دی خو دا مهنت ئی ورته برابروی.

نور خولا پریږده چه ماشومان پدی کار کی دومره ماهره شوی چه کله یو تارومومی او یو وانگ پیدا کړی نو بیا به ئی په کورکی ونه وینی.

خو ورځی وړاندی گرته تللی وم او د جلال آباد له لیاری واپس پیښورته راتلم کله چه د ترنگ سیمی ته را ورسیدم گورم چه د سرك منځ او څواو شاه دماشومانو وکه ده ما فکر کاوه چه کیدی شی دلته به کوم مکتب وی هغه به رخصت شوی وی او ماشومان به خپلو کوروتوته ځی خو کله چی می دهغوی قواروته وکتل نو پوه شوم چه داقواری خو دیوشاګرد دقواری سره هیڅ سمون نه خوری دابه خامخا پاټکبان وی، چا په لاسونوکی تیرونه نیولی وو، چا توپکی راخستی وی، دچاسره وانگونه وو او ....

دسرك په اوږدوکی یو څو موټران چه په لرگیو او سیلفرویی بارکړیوو او ننگرهار ته ئی وړل، همداراز یو موټر گنرته روان وه او په سبزیجاتو بار وه او دهر موټر په شاوخوا کی دومره کسان ولاړ وو چه تا به ویل کوم لوی جنایتکار را گیر شویدی،

پاټکی داره ماراتو به هر لاروی ته لکه د دشمن غوندی کتل او تابه ویل چه لکه تاجه دهغی په حق کی یولوی جرم کړیوی.

دترنگ څخه تر خیوی پوری په هروڅو مترو کی یو پاټك وه چه داسی به هم کیده چه یوه پاټك دی په څو دقیقو کی خپل ځای بدل کړی او مخکی دی ولاړشی، او یو نوی پاټك دی وگرځی. همداراز داسی هم کیده چه یو ماشوم دی څوپاټکونه وچلوی او کله چه موټر له یوه واوړی ماشوم دی له موټر نه مخکی بل پاټك ته ځان ورسوی.ستا به دا فکر شی چه گوندی دغه پاټکونه به دمجاهدینو وو خو هرگز هم داسی نوو ما په دغه ټولو پاټکونو کی یو کس هم داسی و نه لیدو چه د هغی عمر دی ددی تقاضا وکړی چه گوندی د روسانو په ضد دی هغی په جهاد کی یو ساعت پهره هم کړیوی، او که کوم یو دلږ ډیر عمر خاوند هم پکی وو هغه به د پخوانیو رژیمونو بقایا وی وی.

یو ترنگی راته اوو‌پاټکونه را په گوته کړل چه د اوو وروڼو وو یعنی هر ورور یو پاټك درلود او هغوی ټول د عجیب ملیشی وی.

همدغه سړی راته د دوه کسانو نومونه واخستل چه سره وروڼه ووا و په دوه کسی ئی پنځه پاټکونه لرل چه هغوی هم پخوانی ملیشی وی.

ددی حال په لیدو سره می غوټی راځیر شو او هر...ته په تویو شوم او ددی ملت پروتی قهرمانی او ننګ‌یی هښتی را په یاد شوه.

پرون داویاړمن قوم دیو لوی ځنزیر روس دښمنی ته را پاڅیده او هغه ئی خپل انجام ته ورسیا وخو نن د څو یی لاری ماشومانو او څو کموسترو ملیشو له دښمنی، په دومره ویره کی دی چه هغوی ته ادب هم نشی ورښوولای.

لوی خدای دی زموږ په حال ورحمیږی.

لطیفه

ترتیب از: ج. ن

روزی یك طالب العلم از استادش پرسید:

سوال: فرق میان شیخ الحدیث و پوهاند و پروفیسور حدیث چیست؟

جواب: اطلاق شیخ الحدیث در دیار ما بالای آن عالم دین میشود که احادیث رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم را تدریس میکند، دلش از ترس و هیبت و اخلاص و محبت با خداوند تعالی و رسول او صلی الله علیه و آله وسلم پر و معمور میباشد؛ از اثر همین هیبت و محبت بار ها دیده شده اند که در وقت قرائت حدیث آوازش با گریه آمیخته و چشمانش پُر از اشك میباشد، مانند مرحوم مولانا صاحب غورغوښتو و مرحوم مولانا عبدالحق صاحب حقانیه وجناب مرحوم مولانا سلطان جان صاحب قلعه، جواد کابل و امثال شان رحمه الله تعالی علیهم اجمعین.

اما پروفیسور حدیث خواه پوهاند باشد یا پوهندوی یا پوهنمل یا پوهنوال نه چنین است- الا ما شاء الله- تحریر و تقریر شان ما شاء الله تعالی مانند آب روان ولی بعض ایشان از دین چنان میگریزند مانند تیر ازکمان، اکثر شان مانند نصاری ریش میتراشند یا نزدیك به تراشیدن قیچی میکنند، موهای سرمانند نصاری میسازند، لباس (دریشی و نکتایی) نصاری میپوشند، ازیك مملکت اسلامی قصه میکنند که در وقت تدریس بخاری شریف سگرت هم میکشیدند. و قصه های منکرات و کبائر در حق شان به کثرت آمده است.

خاطره: پروفیسوران اداره، کابل نیز در یك وقت ریش میتراشیدند- موی سرمانند نصاری می ساختند لباس(دریشی و نکتایی) نصاری میپوشیدند و به همه تشبیهات افتخار کرده خود را از دیگران نظیف و مترقی تصور میکردند.

از آنجا که خود را بدست خود در سر و صورت و لباس با کافران برابر کردن- بفرموده، حدیث شریف- درحکم آنان وصف آنان جا زدن است ونیز با مسلك مقدس علم حدیث - معاذ الله- توهین بحساب میرود. بنظر میرسد که به همین سبب قساوت و سنگدلی پروفیسوران حاکم بر اداره، کابل بحدی رسیده که علاوه از هزاران مرد و زن مسلمان و اولاد شان، هزاران افراد از خواص امت اسلامی(علمای دین و طالبان علم دین) را نیز بخاطر جاه و مال به شهادت رسانیدند. (انا لـ...) فکر میشود که تاریخ اسلام بعد از حجاج بن یوسف ثقفی نظیر قساوت این پروفیسوران بیاد نخواهد داشت: ایشان شاید هنوز هم -با این همه قساوت- خود ها را مسلمانان درجه یك پندارند ولی مسلمانان افغانستان و همه امت اسلامی درشب و روز ده ها بار از مسلمانی شان بخداوند پناه می جویند و نجات میخواهند.

اختره

ملا محمد اسحق نظامی

ستا احترام به کوو موږ په هر زمان اختره
کاشکی څموږ دزخمی زړونو شي درمان اختره
۱- منم پدی چه ته اختر یی مسلمانو لره
په تیره بیا د مسلمان ملت ځوانانو لره
د خواخوږی زیری یی واوره یی وږلانو لره
یی مورو پلار په همدردی کی دی بچیانو لره
دی ارزومند ستا په راتلو ټول په هرآن اختره
کاشکی څموږ دزخمی زړونو شي درمان اختره
۲- نن په لکهاؤ په ژړانول یتیمان پراته دی
په غرو رغو په سمو دښتو موټیپان پراته دی
پخپلو وینو لمبیدلی شهیدان پراته دی
نوی جامی یی په تن نشته ټول خواران پراته دی
په ژړا سر دی لالهاند خیری گریوان اختره
کاشکی څموږ دزخمی زړونو شي درمان اختره
۳- اختره تیروختونه راغلی خوشحالی چیرته وه
ټول وو په غم او اندیښنو کی آرامی چیرته وه
زړو نه ویرجن او په ژړا ووسرکالی چیرته وه
د وطن زړه یعنی کابل کی تیاری چیرته وه
موږوو په طمع شویه خلاص له بدزندان اختره
کاشکی څموږ د زخمی زړونو شي درمان اختره
٤- سرکال همدا شان حالات جوړدي حکومت نشته دی
ترڅو دا واك نشي بدل منو راحت نشته دی
پرته لدی په بله لار کی مو عزت نشته دی
دا امتیاز لاس ته راوړل یی له زخمت نشته دی
بدغه ویاړدی پوره شوی طالبان اختره
کاشکی څموږ دزخمی زړونو شي درمان اختره
٥- طالبان غواړی چه دملك دابدحالات شي بدل
اصل په اصل کی شي ځای ناچل رښتیا شی ناچل
کمونیستان او لوټماران شي په یوه ځای کی دل
یو متحد افغانستان جوړ شی تری ورك شي خلل
امن تأمین شي، شي نافذ عظیم قرآن اختره
کاشکی څموږ دزخمی زړونو شي درمان اختره
٦- هلته رښتیا به بیا اختره اخترونه شي جوړ
دسوکالی اوآرامی ښایسته جشنونه شي جوړ
بیا به په غاړو مو د گلو امیلونه شي جوړ
دآزادی او خپلواکی ښایسته هارونه شي جوړ
دونظامی، سره پوره کړه دا ارمان اختره
کاشکی څموږ د زخمی زړونو شي درمان اختره
ستا احترام به کوو موږ په هر زمان اختره
کاشکی څموږ د زخمی زړونو شي درمان اختره

د ادب ملغلرې

په رښتیا چه دا د دین د باغ گلان دي

مولوی سید محمود «شبیر»

مسلمین ټول د یوه وجود په شان دي　　که تاجك دي که ازبك که افغانان دي
فرق دتور او دسپین نشته په اسلام کی　　څوك چه فرق پکی کوي منافقان دي
فرق یواځې په تقوی او دیانت دي　　سه هغه دي چه د حق په لار روان دي
کامیابي له ځان ځانی سره ده گرانه　　دی خبری ته تسلیم ټول عاقلان دي
نو په کاره چه خپل منځ کی سره یو شو　　رانه یو ټول کافران ددې جهان دي
امریکا ده که انگلیس که یهودان دي　　دشمنان زموږ د دین او د ایمان دي
د اسلام او د قرآن په دشمنی کی　　سره یو ټول قوتونه د شیطان دي
خو افسوس دي نن سبا په مؤمنانو　　چه په خپلو کی د یو بل دشمنان دي
په خوله وایي موږه ټول یو سره ورونه　　په عمل کی یو له بله پښیمان دي
په خوله ځان بولي خواخوږی د خوارانو　　خو د میږو په جرمو کی لیوان دي
د دوو ورځو اقتدار ته هوسیږی　　دوکه شوي په مکرونو د شیطان دي
هره لاره کی پاټك او تالاشی ده　　خو همدوی قطاع الطریق او ظالمان دي
په جهان کی په شرمودی شرمیدلی　　عالمونه ورته پاته حق حیران دي
نه له خلقو نه شرمیږی نه له خدایه　　نه پاینده د حیل ... اوقرآن دي
هر یو وایي چه دا زه یم په حقه　　دا مور ځني په نښه لار روان دي
خو یواځې چه امیدمو ورته کیږی　　دا سپیځلي هم پرښته طالبان دي
په هر چا یی حمایت واجب او فرض دی　　په رښتیا چه د ... دین د باغ گلان دي
د خپل دین او د وطن په خدمتو کی　　په رښتیا چه ... عمر په شان دي
امنیت یی په وطن کی تأمین کړی　　تری خوشحاله ... او سحی نفاقان دي
که تاجك او که ازبك که پښتانه دي　　دی پخوانی کی یی دوگه ټول طالبان دي
ربه ته څموږ په حال شی مهربانه　　سه په لار کی مو ورکړی شهیدان دي
ډیر ظالمونه دولتونه مو تباه شول　　په موږ کی ډیری گوندی پښیمان دي
ویرخواړان مو شول ژوندي : خاورو لاندی　　قتل شوي ډیر زموږه عالمان دي
زه«شبیر» د طالبانو دوعاگوی یم　　په رښتیا چه د اسلام قهرمانان دي

راروان اختر ته

ملا اسدالله حنیفی

مه راځه اختره دا زموږ ورانو کورونو ته
نشته خنداگانی څه راغواری دی غمونوته
هرکورکښی ماتم دی ویږژاوی فریادونه دی
خنگه په دی لمانځو گوره جنگ اوجهادونو ته
لاړشه راته لري خنداگانو ته وژگار نه یو
ولی را روان یی سرو په وینو سنگرونو ته
مه راځه اختره! دا زخمي زړونه سکتی ولی
وگوره د کونډو یورو ورارو فریادونو ته
نولس کاله وشول چی زموږ وینی روانی دی
وچی نه شوی گوره تری روانو سیلابونو ته
خومره مدرسی اوجوماتونه مرووس وران کړله
ورشه ورته گوره زموږ ورانو جوماتونو ته
زموږ دیتیمانو ترمی اوښکی چی روانی دی
وگوره اختره! دا داوښکو دریابونو ته
گوی شولی وینی ترمو اوښکو له دریاب سره
زیری د حریت دی دا پیوزله ولسونو ته
وینی به کړی بلي نن سبا د آزادی ډیری
ای اختره! تم شه انتظار وکړه وختونو ته
درومی«حنیفی» دا قافله په خپل هدف ته ځی
ته گوری د هیڅا خنداگانو او ویرونو ته

خدایه (ج)

عزیزالله«صدیق وردگ»

لریه خدایه گراری کړه
په وطن مو آرامی کړه
توری شپی ډیری اوږدی شوی
په نصیب مو رڼایی کړه
دوحدت فکرونه ډیرکړه
ورکه دغه ځان ځانی کړه
په ملی وحدت چی ژوند شی
ټول فکرونه افغانی کړه
د ناکلو نه امان را
دین اغلو تباهی کړه
مرڅه ټول دی ستاپه واك کښی
پــه وطـن مو کـراری کـړه
سراسر په ټوله ځمکه
ټول قانون مو سماوی کړه
الحادی خیالونه ورك کړه
آن چورتونه اسلامی کړه
لریه خدایه ته قبوله
د «صدیق وردگ» زاری کړه

طالبان د سولې او عدالت سمبول

حقپرست

طالبان یو حقیقت دی، د یرم، جلال او عظمت. طالبان د لوي خدای«ج» د احکامو د پلی کولو دپاره د قرآن عظیم الشان په حکم باندي مؤظف شوی، ترڅو له ویر ځپلی او مظلوم افغانستان څخه د بدبختیو او بد مرغیو ټغر ټول کړی.

دوی لومړی په هغه ځای کښی سر راپورته کړ کوم چه زیات ظلم پکښی شائع ؤ او کوم چه زیات د عدالت ستوری د ظلمت په تورو وریځو کښی پټ شوی ؤ.

دوی په کندهار کښی په داسی توگه بریالی شول چه تش لاس وو او دا کار له معجزی څخه کم نه ؤ. دوی په ډیر لږ وخت کښی د لوی خدای(ج) په مرسته او نصرت له نیمایی افغانستان څخه زیاتی سیمی ترخپلی ولکی لاندی راوستلی. دا چه د کابل غیر قانونی حکومت لومړی دوي وستایل او دامن کوتره یی وبلل او خپل حمایت یی وورسره اعلان کړ او بیاکله چه په دوی یی غږ وکړ چه حق ته تسلیم شئ ناروا پروپاگنډونه یی پسی پیل کړل.

په ډیری سپین سترگی سره استاذ ربانی او احمد شاه مسعود وویل چه دوی د خارج څخه را وارد شوی کسان دی.

هوا دوی په خپله خپله آینه کښی وکتل او خپل ټول قراردادونه یی په خپل خیال کښی تیر کړل. خو د طالبانو آینه پاکه او صیقل شوی وه.

که ستا خپل سیه رویی نه وی د سمنه
آینــــه زمـا د زړه نـــه ده خچـــــه

زه چه کله د کابل راډیو او یا ددوی د مطبوعاتو تورونه ولولم په تعجب کښي شم چه دا د تره کی او ببرك کارمل له کومی آواز جگیږی که د استاذ ربانی، مسعود او سیاف.

